


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

# د پيل څو مهمې خبرې

د نړۍ د ســترو قدرتونو له ډلې څخه امريکا د نړۍ تر ټولو لوی پوځي ځواک او دفاعي بودجې لرونکی هېواد ګڼل کېږي. هر کال د امريکا حکومت ســلګونه ميلیارده ډالر د پوځ، وســلو، پوځي ټکنالوژۍ، نړيوالو پوځي اډو او د دفاعي فعاليتونو لپاره ځانګړي کوي. د دغو ســتر پوځي لګښــتونو تر شــا يوازې امنيتي اړتياوې نه، بلکې اقتصادي، سياسي او ستراتيژيک عوامل هم شتون لري.

دا مقاله د «The American War Machine» تر عنوان لاندې له بېلابېلو معتبرو سرچينو، علمي راپورونو، دفاعي بودجوي اسنادو او تحليلي مطالبو څخه په استفادې چمتو شوې ده. په دې ليکنه کې هڅه شوې چې د امريکا د پوځي بودجې د جوړښت، د لګښــتونو د برخو، د دفاعي صــنعت د نفوذ، د وســلو نړيوال تجارت او د امريکا د نړيوال پوځي حضور په اړه لوستونکو ته هر اړخيز معلومات وړاندې شي.
همدارنګه د دې موضــوع مثبت او منفي اړخونه په متوازن ډول څېړل شــوي، څو لوســتونکي وکولای شي د امريکا د پوځي ځواک او نړيوال نفوذ ترمنځ اړيکه په ښــه توګه درک کړي.
که دا امريکا او د نړۍ نورو هيوادونو پوځی لګښــتونو ته وګورو نو پوه به شــوو چې بشريت په څه بوخت دی، دوی د بشريت د ساتنې په موخه دومره لګښتونه لری خو بشر لاهم وږی دی او د خوړو لپاره څه نه لری.

په درنښت

عبدالرحمن درمان

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


د پیل ځو مهمې خبرې............................................................ 3

د امریکا پوځي ماشین ........................................................ 5

امریکا ولې دومره لوی پوځ لري؟ .................................................. 7

وسلې، جنګي الوتکې او د پوځي صنعت نفوذ.................................... 9

لابي ګري، نفوذ او د «ګرځنده دروازې» سیستم.................................. 11

ډیپلوماسي، او د وسلو سیالي.................................................... 13

د «مرګ سوداګر» کتاب ......................................................... 15

د امریکا د وسلو نړیوال تجارت او د نفوذ سیاست.............................. 16

ایا وسلې رښتیا هم سیاسي نفوذ رامنځته کوي؟.................................... 19

د وسلو نړیوال بازار ............................................................ 20

پایله............................................................................. 21

وړاندیزونه....................................................................... 22

ماخذونه : ...................................................................... 23

ketabton.com - The Digital Library

## د امریکا پوځي ماشین

ایا په دې پوهیږي چې امریکا په خپل پوځ څومره پیسې لګوي؟. روسیه، چین، هند او نور لوی پوځي ځواکونه هم لوړ پوځي لګښتونه لری ، خو که د دغو ټولو هېوادونو پوځي لګښتونه سره یو ځای هم شي، بیا هم امریکا تر هغوی ډېر مصرف کوي. په حقیقت کې، امریکا د راتلونکو لسو هېوادونو د ګډو پوځي لګښتونو څخه هم زیاته بودجه پوځ ته ځانګړې کوي .

خو مهمه پوښتنه دا ده چې دا ټولې پیسې په څه لګېږي؟

په دې بودجه کې د سرتېرو معاشونه، امتیازات، د هغوی د ماشومانو ښوونځي فیسونه، د میلیونونو ډالرو ارزښت لرونکي هلیکوپټرونه او توغندي شامل دي. د بېلګې په توګه، ځینې هلیکوپټرونه شاوخوا ۲۱ میلیونه ډالره او ځینې توغندي نږدې ۱.٦ میلیونه ډالره بیه لري .

همدارنګه، پنټاګون د نوو وسلو او پوځي ټکنالوژیو د پراختیا لپاره هم سترې بودجې ځانګړې کوي. د بېلګې په توګه، سمندري لیزري وسلې او د F-35 جنګي الوتکه، چې اټکل کېږي ټولیز لګښت یې شاوخوا ۲ ټریلیونه ډالرو ته ورسېږي .

د امریکا د حکومت له کلنۍ بودجې څخه نږدې نیمایي برخه پوځ ته ورکول کېږي. په داسې حال کې چې زده کړې، روغتیا، ساینس، انرژي، چاپېریال او ډیپلوماسي هم بودجې ته اړتیا لري. د کتاب په ورستیو برخو کې به پوهه شی چې دا پیسې چېرته مصرفېږي او ولې امریکا د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله دومره ستر پوځي لګښت لري؟.

ketabton.com - The Digital Library

د ۲۰۲۳ کال لپاره د پنټاګون ټولیزه بودجه شـــاوخوا ۸۵۳ میلیارده ډالر وه. دا اندازه دومره لویه ده چې د سویس د ټول اقتصاد له ارزښت څخه هم زیاته ګڼل کېږي .

کله چې دغه بودجه ووېشـــل شي، نږدې نیمایي برخه یې د «عملیاتو او ســاتنې» په نوم برخې ته ځي. دا شاوخوا ۳۵۲ میلیارده ډالر دي چې د دفاع وزارت د ورځنیو چارو د پرمخ وړلو لپاره مصرفېږي .

په دې لګښتونو کې د سون توکي، ترانسپورټ، روزنه، اداري چارې، د تجهیزاتو ترمیم او روغتیایي خدمتونه شامل دي. یوازې د پوځیانو د روغتیایي خدمتونو لپاره شاوخوا ۳۹ میلیارده ډالر ځانګړي شوي دي .

سربېره پر دې، پوځ د چاپېریال پاکولو، د طبیعي پېښو پر مهال د مرستو رسولو، د نشه یي توکو ضـــد فعالیتونو او آن د نړیوالو ورزشي ســـیالیو د امنیت لپاره هم بودجه مصرفوي .

دغه بودجه د امریکا د نږدې ۱۲۵۰ پوځي اډو د چلولو لګښـــت هم پوره کوي. له دې ډلې شاوخوا ۸۰۰ اډې د امریکا له خاورې بهر په نورو هېوادونو کې موقعیت لري.

ketabton.com - The Digital Library

## امریکا ولې دومره لوی پوځ لري؟

دلته باید یوه مهمه خبره درک کړو هغه دا چې د امریکا پوځ د ډېرو نورو هېوادونو د پوځونو په څېر عادي پوځ نه دی. د نړۍ زیاتره پوځونه د خپلو پولو او ملي امنیت د ساتنې لپاره جوړ شوي وي، خو د امریکا پوځ د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې حضور لري او نړیوال رول لوبوي .

د امریکا د ستر پوځي لګښت یو مهم دلیل دا دی چې امریکا ځان د نړیوال ځواک په توګه ویني او د نړۍ په ګڼو سـیمو کې خپل نفوذ او حضـور سـاتي. د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د سلګونو پوځي اډو ساتل او چلول ډېر لوی لګښت ته اړتیا لري .

د بودجې بله لویه برخه د پوځي پرسـونل لپاره ځانګړې شـوې ده. په ۲۰۲۳ کال کې شـــاوخوا ۱۷۲ میلیارده ډالر د سرتېرو، احتیاطي ځواکونو او ملکي کارکوونکو د معاشـونو، امتیازاتو، تقاعد او روغتیایي خدمتونو لپاره ځانګړي شـوي وو. د امریکا د دفاع وزارت د نړۍ له سترو کار ورکوونکو ادارو څخه ګڼل کېږي .

پنټاګون د نویو اســـتعدادونو د جذب لپاره هم میلیونونه ډالر لګوي. د بېلګې په توګه، یوازې د مصنوعي ځیرکتیا (AI) د متخصصینو د استخدام لپاره لسګونه میلیونه ډالر ځانګړي شوي وو .

له دې وروســـته د بودجې بله ســـتره برخه څېړنې او پراختیا (Research & Development)ده. په دې برخه کې شاوخوا ۱۴۰ میلیارده ډالر مصرف شوي وو. د دې پیسو موخه د راتلونکو پوځي ټکنالوژیو جوړول او د جګړې په ډګر کې د تخنیکي برلاسۍ ساتل دي .

د دې پروژو ډېری برخې پټې ساتل کېږي، خو معلومه ده چې په کې مصنوعي ځیرکتیا، د ډرونونو پرمختللي سیستمونه، بې‌پیلوټه ا او لیزري وسلې شاملې دي .

ketabton.com - The Digital Library

د امریکا پوځ له کلونو راهیسې هڅه کوي دا سې ځانګړي پوځي لبا سونه او و سایل جوړ کړي چې د سرتېرو فزیکي وړتیاوې ز یاتې کړي او هغوی وکولای شي درا نه بارونه انتقال کړي. که څه هم دا ټکنالوژي لا بشـــپړه نه ده، خو پرمختګ یې روان دی .

په زړه پورې دا چې ځینې هغه ټکنالوژۍ چې لومړی د پوځ لپاره رامنځته شـــوې وې، وروسته د عامو خلکو په ورځني ژوند کې هم کارول شوې دي. د بېلګې په توګه:

- GPS
- ډرونونه
- د غږ پېژندنې سیستمونه
- د کمپیوټر ماوس
- انټرنېټ

دا ټولې هغه ټکنالوژۍ دي چې لږ تر لږه یوه برخه یې د امریکا د پوځ له څېړنیزو پروګرامونو څخه سرچینه اخلي .

د بودجې یوه بله کوچنۍ برخه، چې بیا هم ۱۹ میلیارده ډالر ده، د نوو تاســیســاتو او ودانیو جوړولو ته ځانګړې شـــوې ده. پکې په جاپان کې د الوتکو د ســـون زېرمې، په امریکا کې نوې پوځي ودانۍ او نورې پروژې شاملې دي .

خو کله چې خلک د پوځي بودجې په اړه فکر کوي، تر ټولو ډېر د وســلو د پېرلو برخه ور په یادېږي. په ۲۰۲۳ کال کې امریکا د وســـلو او تجهیزاتو د پېرلو لپاره شـــاوخوا ۱۶۷ میلیارده ډالر ځانګړي کړي وو .

ketabton.com - The Digital Library

## وسلې، جنګي الوتکې او د پوځي صنعت نفوذ

اوس د بودجې هغې برخې ته رسېږو چې ډېری خلک یې د پوځي لګښتونو اصلي برخه ګڼي، د وسلو او تجهیزاتو پېرل.

په ۲۰۲۳ کال کې امریکا د و سلو او پوځي تجهیزاتو د اخیستلو لپاره شاوخوا ۱۶۷ میلیارده ډالر ځانګړي کړي وو. دا اندازه پیسې د ایتوپیا د ټول اقتصاد له ارزښت سره نږدې برابره ده .

د بېلګې په توګه، د یوې پرمختللې جنګي الوتکې بیه شاوخوا ۱۴۲ میلیونه ډالر ده. امریکا په ۲۰۲۳ کال کې ۷۷ داسې الوتکې واخیستې او د نورو ۸۳ الوتکو د اخیستلو لپاره یې هم د میلیاردونو ډالرو غوښتنه کړې وه .

همدارنګه، ځینې کروز توغندي چې له الوتکو څخه توغول کېږي، د هر یوه بیه یې شاوخوا ۱.۶ میلیونه ډالر ده. یوازې په یوه کال کې سلګونه داسې توغندي پېرل شوي وو .

پوځ د سرتېرو د لېږد لپاره زرګونه زغره‌وال موټر، لسګونه F-15 جنګي الوتکې، د «بلیک هاوک» هلیکوپټرونه او جنګي بېړۍ هم اخلي. د دغو پروژو هره یوه په میلیاردونو ډالرو تمامېږي .

خو یوه بله مهمه ستونزه هم شته، پنټاګون تر اوسه په بشپړ ډول خپل مالي حسابونه نه دي منظم کړي. د کلونو راهیسې یې د خپلواکو مالي پلټنو (Audit) ازموینې په بریالیتوب نه دي تېرې کړې. پلټونکو موندلې چې د ځینو شتمنیو او تجهیزاتو د دقیق موقعیت او ارزښت په اړه بشپړ معلومات نه شته .

ketabton.com - The Digital Library

بله پوښتنه دا ده چې ولې د افغانستان او عراق له جګړو وروسته هم پوځي لګښتونه لوړېږي؟

یو ستر لامل يې د امريکا نړيوال رول دی، خو بل مهم لامل دا دی چې د دې بودجې لويه برخه خصوصي شرکتونو ته ځي. د معلوماتو له مخې، شاوخوا ۴۶۶ ميلیارده ډالر يا نږدې ۵۴ سلنه بودجه خصوصي قراردادیانو او وسلو جوړوونکو شرکتونو ته رسېږي .

د دغو سترو شرکتونو له ډلې څخه دا نومونه ډېر تکرارېږي:

- Lockheed Martin
- Boeing
- Raytheon
- Northrop Grumman
- General Dynamics

پخوا په امريکا کې د دفاعي صنعت ګڼ شرکتونه موجود وو، خو د کلونو په تېرېدو ډېرى کوچني شرکتونه د همدې لويو شرکتونو له خوا جذب يا اخيستل شوي دي. اوس پنټاګون په ډېرو مهمو وسلو کې پر همدې څو شرکتونو تکيه لري .

کله چې سيالي کمه شي، بيې لوړېږي. د بېلګې په توګه، د «ستېنګر» توغندي بيه چې پخوا شاوخوا ۲۵ زره ډالره وه، اوس نږدې نيم ميليون ډالرو ته رسېدلې ده .

ځيني پلټنو دا هم موندلې چې په ځينو قراردادونو کې حکومت ته له اصلي بيې څو چنده لوړې بيې اخيستل شوې دي. د مثال په ډول، يوه کوچنۍ پرزه چې په ګودام کې يې بيه يوازې ۱۵ ډالره وه، پنټاګون ته په زرګونو ډالرو پلورل شوې وه .

ketabton.com - The Digital Library

له شته تحلیلونو سره سم، د دغو شرکتونو گټې یوازې په وسلو نه محدودیږي. دوی د سیاستوالو او انتخاباتي کمپاینونو لپاره هم میلیونونه ډالر مصرفوي، څو د پوځي بودجې د زیاتېدو ملاتړ دوام ومومي .

## لابي گري، نفوذ او د «گرځنده دروازې» سیستم

د امریکا د پوځي بودجې د لوړېدو تر شا یوازې امنیتي دلایل نه دي، بلکې د وسلو جوړوونکو لویو شرکتونو اقتصادي او سیاسي نفوذ هم مهم رول لري .

د دغو شرکتونو یوه مشهوره تگلاره د گرځنده دروازې (Revolving Door) په نوم یادیږي. مطلب یې دا دی چې یو لوړپوړی پوځي یا دولتي چارواکی کلونه په پنټاگون کې دنده ترسره کړي، وروسته تقاعد شي او د وسلو جوړوونکي شرکت لوړپوړی مدیر یا د مدیره پلاوي غړی شي. بیا ځینې وخت بېرته دولتي مقام ته راستانه شي .

د امریکا پخواني دفاع وزیر جېمز متیس (Jim Mattis) ته که وگورو ، چې له پوځ څخه تر تقاعد وروسته د دفاعي شرکت په مدیره پلاوي کې شامل شو، بیا د امریکا د دفاع وزیر وټاکل شو، او وروسته یو ځل بیا خصوصي سکتور ته ستون شو .

د یوې څېړنې له مخې، یوازې په ۲۰۲۲ کال کې د امریکا سترو دفاعي شرکتونو ۶۷۲ پخواني پنټاگوني کارکوونکي استخدام کړي وو، چې د لابي گرانو، مشاورینو او مدیرانو په توگه یې کار کاوه .

منتقدان وایي، کله چې یو دولتي چارواکی پوه شي چې له تقاعد وروسته به د یوه دفاعي شرکت په لوړه تنخوا وگمارل شي، نو کېدای شي د خپلې دولتي دندې پر مهال هم د هماغه شرکت په گټه پرېکړې وکړي .

ketabton.com - The Digital Library

ځيني قانون جوړونکي د هغو د فاعي شرکتونو و نږدې لري چې له پنځاګون څخه قراردادونه ترلاســـه کوي. په دې صـــورت کې، که پوځي لګښـــتونه ډېر شي، د دغو شرکتونو عايد او د ونډو ارزښت هم لوړېږي .

بله مهمه موضــوع د کارموندنې ده. دفاعي شرکتونه خپلې فابريکې او توليدي مرکزونه د امريکا په بېلابېلو ايالتونو او انتخاباتي حوزو کې خپروي. د دې کار پايله دا وي چې زرګونه خلک په دغو سيمو کې کار پيدا کوي .

کله چې د کانګرس يو غړی ويني چې د خپلې حوزې زرګونه خلک په يوه دفاعي فابريکه کې کار کوي، نو طبيعي ده چې هغه به د دغې پروژې او بودجې ملاتړ وکړي، ځکه د بودجې کمېدل ښايي د خلکو د دندو له لاسه ورکولو لامل شي .

د سناتور راجر ويکر (Roger Wicker) په اړه که ووايو نو هغه د وسلهوالو ځواکونو د کمېټې غړی دی او د پوځي بودجې د زياتوالي ملاتړ کوي. په همدې حال کې، د هغه په ايالت مسيسيپي کې يوه ستره بېړۍ جوړوونکې دفاعي فابريکه زرګونه کسان په کار بوخت ساتي .

د تحليل له مخې، په دې ډول يو متقابل سيستم رامنځته کېږي:

- دفاعي شرکتونه د حکومت قراردادونه ترلاسه کوي؛
- فابريکې کارونه پيدا کوي؛
- سياستوال د خلکو ملاتړ ترلاسه کوي؛
- شرکتونه د انتخاباتي کمپاينونو مرسته کوي؛
- او بيا د بودجې د زياتوالي لپاره سياسي ملاتړ دوام پيدا کوي .

ستونزه له افرادو څخه ډېره په سيستم کې ده؛ داسې سيستم چې د پوځي لګښتونو د دوام او زياتوالي لپاره پياوړي اقتصادي او سياسي انګېزې رامنځته کوي .

ketabton.com - The Digital Library

د نړیوالو اړیکو په نظریو کې دا استدلال مطرح کېږي چې ځواکمن پوځونه کله ناکله د جګړې د مخنیوي وسیله ګرځي. کله چې یو هېواد قوي دفاعي توان ولري، سیالان یې ښایي د برید کولو جرئت ونه کړي .

له بلې خوا، کله چې یو هېواد خپل پوځ پیاوړی کړي، سیال هېوادونه هم هڅه کوي خپل پوځونه پیاوړي کړي. همدا حالت د سړې جګړې پر مهال د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ رامنځته شوی و، چې دواړو خواوو زرګونه اټومي وسلې جوړې کړې .

## ډیپلوماسي، او د وسلو سیالي

کله چې یو هېواد خپل پوځي ځواک زیاتوي، سیال هېوادونه هم هڅه کوي ورته کار وکړي. د سړې جګړې پر مهال امریکا او شوروي اتحاد دواړو په دوامداره توګه خپلې وسلې زیاتولې، تر دې چې دواړو خواوو له لسو زرو څخه زیاتې اټومي‌سرګلولې لرلې .

د ځینو شنونکو په اند، د امریکا په فدرالي بودجه کې شاوخوا نیمایي اختیاري لګښتونه دفاعي چارو ته ځي، په داسې حال کې چې د بهرنیو چارو او ډیپلوماسۍ برخه ډېر کوچنی سهم لري. دا د دې ښکارندویي کوي چې پوځي ځواک د امریکا د بهرنۍ پالیسۍ یوه مهمه وسیله ده .

ډیپلوماسي ستونزمنه، اوږده او پېچلې پروسه ده، خو د نړیوالو شخړو د حل لپاره مهم رول لري. نړیوال قوانین، تړونونه او همکاري هغه لارې دي چې هېوادونه یې د خپلو اختلافاتو د حل لپاره کاروي .

له بلې خوا، هر ډالر چې پوځ ته ځانګړی کېږي، په بل ځای کې نه مصرفېږي. منتقدان وایي که دفاعي بودجه لوړه شي، نو ښایي د روغتیا، زده کړو، اقلیمي بدلون او نورو ټولنیزو برخو بودجه محدوده شي .

ketabton.com - The Digital Library

"امنيت" يوازې پوځي امنيت نه دی. ښــه سـړکونه، پاکې اوبه، روغتيايي خدمات، زده کړې او اقتصادي فرصتونه هم د ټولنې د امنيت مهم عناصر ګڼل کيږي .

د پوځ ولس ته درناوی لري، خو باور لري چې اوســـنی ســـيســـتم کله ناکله د پوځي بودجې د کره ارزونې مخه نيسيـ او داســـې لومړيتوبونه رامنځته کوي چې د خلکو د امنيت پر ځای د شرکتونو له ګټو سره تړاو لري .

ketabton.com - The Digital Library

## د «مرگ سوداگر» کتاب

جگړې پخوا تر ډېره د انســانانو، نیزو، تورو او وروســته د ټوپکونو په مرســته ترسره کیداي خو د صنعتي انقلاب له راتګ وروسته هر څه بدل شول .

د ډبرو ســکرو او نفتو انرژۍ لویو فابریکو ته توان ورکړ چې په پراخه کچه وســلې تولید کړي. اورګاډي، بخاري بېړۍ، لوی توپونه او نوې صــنعتي وســلې د جګړې بڼه بدله کړه .

۱۹۳۴ کال کې «Merchants of Death» د مرگ ســوداگر په نوم یوکتاب خپور شوو.. د کتاب له نظره، د وسلو جوړوونکی شرکتونو د خپلو محصولاتو د پلورلو لپاره حکومتونه او ملتونه د سیالانو او ګاونډیانو له خطره وېرول، څو د وسلو غوښتنه زیاته شي .

کتاب استدلال کوي چې د پخوانیو ساده وسلو پر ځای پیچلې او ګرانې صنعتي وسلې راغلې، چې د پوځونو د ساتنې او تجهیز لګښتونه یې په چټکۍ سره لوړ کړل .

په هغه وخت کې د وسلو صنعت تر ډېره د خصوصي سوداګرو په لاس کې و. د کتاب په وینا، د وســلو ســوداګر ځان مجرم نه باله؛ هغه ځان یوازې یو ســوداګر ګاڼه چې د بازار د اصولو له مخې خپل توکي پلوري .

کتاب خبرداری ورکوي که جګړې دوام ومومي، د وســـلو جوړوونکي به لا ځواکمن شي او د دولتونو په بودجو کې به د پوځي لګښتونو ونډه نوره هم لوړه شي .

ketabton.com - The Digital Library

## د امریکا د وسلو نړیوال تجارت او د نفوذ سیاست

نن ورځ امریکا د نړۍ تر ټولو لوی د وسلو صادرونکی هېواد دی او له بل هر هېواد څخه ډېرې وسلې نورو هېوادونو ته پلوري .

د وسلو جوړوونکی د وسلو تجارت یوازې یو اقتصادي فعالیت نه بولي، بلکې استدلال کوي چې وسلې د نړیوال نفوذ د یوې وسیلې په توګه هم کارول کېږي. هېوادونه کله ناکله د پیسو پر ځای د وسلو له لارې سیاسي اړیکې او نفوذ پیاوړی کوي .

امریکا یوازې وسلې نه پلوري، بلکې د دې وسلو په بدل کې ځینې ستراتیژیکې موخې هم تعقیبوي. د وسلې جوړوونکي او د هغه د ټیم د ارزونې له مخې، امریکا عموماً پنځه ډوله ګټې لټوي:

1. ثبات (Stability)
2. متحدین (Allies)
3. ملګرتیا او سیاسي ملاتړ (Friendship)
4. د سیالانو پر وړاندې مرسته (Countering Rivals)
5. حیاتي سرچینې (Vital Resources)

دا د وسلو جوړوونکو خپله تحلیلي طبقه‌بندي ده، نه د امریکا د حکومت رسمي دریځ دی چې د دې په اړه یې لري.

ketabton.com - The Digital Library

## اروپا او ناټو

په اروپا کې امریکا ډېرو ناټو غړو هېوادونو ته وسلې ورکوي. د تحلیل له مخې ، موخه دا ده چې د دغو متحدینو دفاعي وړتیاوې لوړې شي او که اړتیا پېښــــه شي، په ګډه جګړه ترسره کړای شي .

## اوکراین او روسیه

اوکراین یې ښه مثال دی چې د ناټو غړی نه دی، خو امریکا ورته ډېرې وسلې ورکوي. له تحلیل سره سم، دا ملاتړ د روسیې د نفوذ او پوځي فشار د مخنیوي په چوکاټ کې ارزول شوی دی .

## منځنی ختیځ او ایران

په منځني ختیځ کې چې امریکا یو شــمېر هېوادونو ته د ایران د نفوذ د مهارولو په موخه وسلې ورکوي. د اسرائیل نوم د یوه مهم مثال په توګه یاد شوی دی .

## سعودي عربستان او خلیجي هېوادونه

د ســعودي عربســتان او خلیجي هېوادونو چې د نفتو ســترې زېرمې او ســتراتیژیک اهمیت د امریکا لپاره مهم عوامل ګڼل کېږي. وســلې د اړیکو د ســاتلو او د دغو سرچینو د امنیت د پیاوړتیا یوه برخه ګڼل کېږي .

ketabton.com - The Digital Library

## افريقا

په افریقا کې امریکا ګڼو حکومتونو ته وســـلې ورکوي. موخه یوازې سرچینې نه دي، بلکې د حکومتونو ثبات او د کودتاوو او کورنیو شـــخړو د مخنیوي هڅې هم یادې شوي دي .

## ختیځه اسیا او چین

په ختیځه اســـیا کې چین د امریکا یو مهم ســـیال ګڼل کیږي. امریکا هغو هېوادونو ته وسلې ورکوي چې د چین له نفوذسره مخ دي یا د سیمې په ستراتیژیکو توازنونو کې رول لري. د تایوان د نیمه هادي (Semiconductor) صـــنعت هم د یوې مهمې ستراتیژیکې شتمنۍ په توګه یاد شوی دی .

خو یوه مهمه پوښتنه چې شاید تاسو سره هم پیدا شوې وي هغه دا چې:

- ایا وسلې ریښتیا هم نفوذ رامنځته کوي؟
- که وسلې د نفوذ وسیله وي، نو ایا دا تګلاره تل بریالۍ وي؟

ځواب دا دی :ځینې وختونه هو، خو تل نه .

د کارپوهانو په وینا، وسلې د متحدینو ترمنځ اړیکې پیاوړې کوي او د امنیتي همکاریو بنســـټ جوړوي، خو کله چې د نورو هېوادونو د چلند د بدلولو خبره راشي، اغېز یې محدود وي

ketabton.com - The Digital Library

## ایا وسلې رښتیا هم سیاسي نفوذ رامنځته کوي؟

د سعودي عربستان په اړه که وغږیږو چې  امریکا له کلونو راهیسې سعودي عربستان ته په میلیاردونو ډالرو وسلې پلورلې دي. د دې وسلو د پلور پلویان استدلال کوي چې دا کار د دواړو هېوادونو ترمنځ امنیتي اړیکې پیاوړې کوي او سیمه‌ییز ثبات ته مرسته رسوي .

خو منتقدان وایي چې د وسلو پلور تل د نفوذ تضمین نه کوي. د بېلګې په توګه، د یمن د جګړې پر مهال امریکا پر  سعودي عربستان د فشار راوړلو هڅه وکړه، خو د و سلو پخوانیو قراردادونو د سعودي حکومت ټولې تګلارې بدلې نه کړې .

که د اسرائیل په اړه وغږیږو چې امریکا له اوږدې مودې راهیســـې اسرائیل ته پوځي مرســتې او پرمختللې وســلې ورکوي. د دې ملاتړ پلویان بیا وایي چې دا د اسرائیل د امنیت د تضــمین لپاره اړین دي، خو منتقدان بیا اســتدلال کوي چې دا مرســتې تل د امریکا غوښتنې او پالیسۍ نه شي عملي کولای .

اصلي استدلال دا دی چې وسلې د اړیکو د جوړولو او ساتلو وسیله کېدای شي، خو د نورو هېوادونو د پالیسیو د بشپړ کنټرول ضمانت نه شي ورکولای .

ویډیو استدلال کوي چې وسلې د یوې ستراتیژۍ برخه کېدای شي، خو یوازې وسلې د سیاسي ثبات، ښه حکومتولۍ او دوامدارو پایلو تضمین نه شي کولای .

ketabton.com - The Digital Library

## د وسلو نړیوال بازار

د وسلو نړیوال بازار یوازې د امریکا په لاس کې نه دی. روسیه، فرانسه، چین، جرمني او نور هېوادونه هم د وسلو لوی صادرونکي دي. خو د نړیوالو شمېرو له مخې، امریکا د وسلو د صادراتو تر ټولو لویه برخه لري .

کله چې یو هېواد د بل هېواد وسـلې اخلي، یوازې یو محصـول نه اخلي؛ بلکې روزنه، پرزې، تخنیکي ملاتړ او اوږدمهاله اړیکې هم ورسره تړلې وي. له همدې امله د و سلو پلور ډېر وخت د اوږدمهاله سیاسي او امنیتي اړیکو بنسټ جوړوي .

د امریکا پوځي بودجه او د و سلو نړیوال تجارت یوازې د امنیت مو ضوع نه ده؛ بلکې له اقتصاد، سیاست، صنعت، نړیوال نفوذ او ستراتیژیکو ګټو سره هم ژور تړاو لري .

د پوځي لګښــتونو په اړه بحث باید یوازې د وســلو د شــمېر او پوځ د ځواک په اړه نه وي، بلکې دا پوښتنه هم وشي چې دا پیسې څنګه لګول کېږي، څوک ترې ګټه اخلي، او د ټولنې لپاره یې فرصت لګښت (Opportunity Cost) څه دی.

ketabton.com - The Digital Library

## پایله

د امریکا پوځي بودجه یوازې د ملي دفاع او امنیت لپاره نه کارول کېږي، بلکې له نړیوال سیاست، اقتصادي ګټو، ټکنالوژیک پرمختګ، دفاعي صنعت او نړیوال نفوذ سره ژور تړاو لري.

امریکا د نړۍ تر ټولو لویه دفاعي بودجه لري او د خپلو نړیوالو پوځي اډو، پرمختللو وسلو، څېړنیزو پروګرامونو او متحدینو د ملاتړ لپاره ستر مالي منابع مصرفوي.

همدارنګه څېړنه ښيي چې د وسلو جوړوونکي شرکتونه، لابي‌ګري، سیاسي نفوذ او اقتصادي ګټې د پوځي بودجې په زیاتوالي کې مهم رول لري. له بلې خوا، د پوځي لګښتونو لوړوالی تل د امنیت د زیاتوالي ضمانت نه شي ورکولای، ځکه ډیپلوماسي، اقتصادي پرمختګ، روغتیا، زده کړې او ټولنیز ثبات هم د امنیت اساسي عناصر ګڼل کېږي.

په ټوله کې د امریکا پوځي ماشین د معاصرې نړۍ د ځواک، اقتصاد، سیاست او نړیوال نفوذ له مهمو موضوعاتو څخه دی، او د دې پدیدې درک کول د نړیوالو اړیکو او امنیتي مطالعاتو د پوهېدو لپاره ځانګړی اهمیت لري.

ketabton.com - The Digital Library

## وړاندیزونه

1. د پوځي بودجو په اړه څېړنې باید یوازې د وسلو او پوځ له زاویې ونه ارزول شي، بلکې د ټولنیزو او اقتصادي اغېزو له مخې هم تحلیل شي .
2. حکومتونه باید د دفاعي بودجو ترڅنګ د زده کړو، روغتیا، چاپېریال او عامه هوساینې برخو ته هم کافي پاملرنه وکړي .
3. د وسلو د صنعت او دولتي ادارو ترمنځ د اړیکو په اړه باید لا زیات شفافیت موجود وي، څو د فساد او غیر ضروري لګښتونو مخه ونیول شي .
4. د نړیوالو شخړو د حل لپاره باید ډیپلوماسي او سوله‌ییزې لارې د پوځي لارو تر څنګ پیاوړې شي .
5. د ژورنالیزم او نړیوالو اړیکو محصلین دې د پوځي بودجو، دفاعي صنعت او نړیوال سیاست ترمنځ اړیکې په ژوره توګه مطالعه کړي، ځکه دا موضوع د نړیوال نظام په درک کې مهمه ونډه لري .
6. **څېړونکي او لیکوالان باید د پوځي لګښتونو تر څنګ د هغو فرصت لګښتونه (Opportunity Costs)هم وڅېړي، ترڅو خرګنده شي چې د دغو پیسو په بدیل ډول د ټولنې د پرمختګ لپاره څه امکانات رامنځته کېدای شي.**
7. **په افغانه ټولنه کې باید د نړۍ د زبرځواکونو د پوځي بودجو، د وسلو جوړونې صنعت، نړیوالو وسلو تجارت او د هغو د سیاسي، اقتصادي او امنیتي اغېزو په تړاو علمي او اکاډمیکې څېړنې لا پراخې شي، ترڅو ځوانان او څېړونکي د نړیوالو قدرتونو د ستراتیژیو او نړیوالو اړیکو په اړه ژوره پوهه ترلاسه کړي.**

ketabton.com - The Digital Library

## ماخذونه :


1. Harris, J. (2024). *The American War Machine* [Video]. YouTube.
2. Stockholm International Peace Research Institute (SIPRI). *Military Expenditure Database*.
3. U.S. Department of Defense. *Defense Budget Materials*.
4. Congressional Budget Office (CBO). *Long-Term Implications of the Future Years Defense Program*.
5. Government Accountability Office (GAO). *Department of Defense Financial Management Reports*.
6. Engelbrecht, H. C., & Hanighen, F. C. (1934). *Merchants of Death*. New York: Dodd, Mead & Company.
7. Congressional Research Service (CRS). *U.S. Arms Sales and Security Assistance Reports*.
8. Open Secrets. *Defense Industry Lobbying and Campaign Contributions Data*.
9. North Atlantic Treaty Organization (NATO). *Defense Expenditure Reports*.

Ketabton.com – The Digital Library

# The American war machine

# د امریکا جنګي ماشین

د جګړو له ډګرونو څخه د واک تر دهلیزونو پورې، «د امریکا د جګړې ماشین» څېړي چې متحده ایالاتو څنګه خپله نړیواله پوځي امپراتوري رامنځته، تمویل او پیاوړې کړې ده.

دا کتاب د امریکا د جګړو تر شا پټې ګټې، ستراتېژیکې محاسبې او اقتصادي ځواکونه را برسېره کوي؛ له وسلو له سوداګرۍ او دفاعي صنعتونو نیولې، تر استخباراتي عملیاتو او جیوپولیټیکو موخو پورې.

د یوه اغېزناک روایت او ژورې شننې له لارې، کتاب څرګندوي چې جګړه څنګه یوازې د امنیت وسیله نه ده پاتې شوې، بلکې د سیاسي نفوذ او اقتصادي ګټې لپاره په یوه ځواکمن محرک بدله شوې ده.



# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*